شریف الله دوست سرواني ۲۰۱۲/۰۲/۰۵

# دزنداورلرغونی جغرافیه

دوهمه برخه

په زړو تاریخی او جغرافیایی متونو کی دزنداور نوم:
په زړو تاریخي او جغرافیایي متونو کی دزنداور نوم په لړ یا ټول توپیر سره لیدل کیږی، چی په دی کښی ځینی دکاتبانو تیر وتنی دي او ځیني نومونه بیا دوخت په تیریدو په خولو کی یو ډول بل ډول اوښتي راوښتي دي لکه د ممال بیلګه چي مو په تیره برخه کي ولوستل.
دزنداور نوم په دی بڼه راغلی، ارض داور، زمین داور، زینداور، زنداور، بلاد داور( دداور ښار)، بلدالداون، جبل الزور، بلدی داور، داور، جبل الروذ، الزور، الرود، الزور سو نا ګیر او ...
داسلامی دوری په موریخانو کی دلومړی ځل دپاره احمد بن یحیي مهشور په بلاذری د(۲۵۰ هـ ق) په شاوخوا کی یوولس نیم سوه کاله دمخه د داور نوم اخیستی. (۲۰)
اصطخري په (۳۲۲ هـ ق) کی بشپړ نوم یی ابو اسحق ابراهیم بن محمد اصطخري په خپل کتاب(مسالک او ممالک) کي زنداورپه زمین داور، یا بلدي داور، داور او داسي نورو سره راغلي او ثبت سوي دي(۲۱). اصطخري لیکي (داور(زنداور) دنعمتونو څخه ډک اقلیم لري د(...غور پر مرز او سرحد دی او بغنین او خلج او بشلنګ او خاش په دی ناحیه کی دي).
یاقوت حموي په خپل اثر معجم البلدان کي (۵۷۵-۶۲۶ هـ ق) کي زنداور په (ارض داور) لیکلی دی(۲۲). په بل ځای کي په کتاب مسالک کي مقدسي هم داځای (ارض داور) یاد کړی دی. (۲۳)
ابوالقاسم عبیدالله بن خردادبه په (۲۵۲-۲۷۱ ه ق) کی زنداور د(بلا داور) یاد کړی او دسیستان دمهمو ښارونو څخه یی بللی.(۲۵)
ابن فقید همداني هم په کتاب البلدان کي په کال(۲۹۰ ه) کي داځای په (بلا داور) سره یاد کړی دی. (۲۴)
ابو زید بلخي زمینداور دسیستان اړوند بللی دی. ابوالقاسم بن احمد الجیهانی داشکال العالم په کتاب کي د داور یادونه کړی او وایي" دداور غرونه لوړ او ټینګ دي او هلته درختي ډیري دي او سر سبزه دي او واوره کیږي خلکو یی دبني اُمیه تر وخت پوري دلمر لمانځنه کول او دبنی عباس دخلافت په وختو کي مسلمانان سوه د داور غرونه دهستۍ ډک او هلته داوسپني کان سته" . په پنځمه هجري پیړۍ کي په تاریخ بیهقی کي وایی " لومړنی ولایت چي امیر سبکتګین امیرمحمود(سلطان محمود) ته وسپاری زمینداور ۇ"(۲۷). په لومړني دري جغرافیایی اثر حدود العالم (۳۷۲ ه) کی چي لیکوال یی نامعلوم دی تالیف ۳۷۲ هجري کي وایي:" ... زمینداور یوه آباده ناحیه ده دغور پر سرحد دبُست او غور تر منځ او دهغه دوه ښآره دی(تل) او (درغش) او دواړه د غور سره په پوله پراته دي او په (درغش)(۲۸) کي زعفران کیږي او درمشیان(درویشان) دناحیي سره مبنتی دی". په معجم البلدان کي هم ددی یادونه سوی خو د(درغش) پر ځای یی غور کښلی دی. (۲۹)
په طبقات ناصري، کي ابو عمر منها ج الدین عثمان بن سراج الدین مشهور په منهاج سراج جوزجاني په (۶۲۴-۶۵۸ ه ق) کي دزمین(داور) نوم یادوي او په څنګ کي یی د(باغ رام) یادونه هم په خورا ښه ستاینه سره کوي او وایی " ... نقات چنین روایت کرده اند و از حضرت فیروز کوه که دارالملک زمستاني بوده هیچ افریده رامجال نبودی که شکار کردي و میان آن در شهر چهل فرسنګ بود و هر فرسنګ را میلی فرموده بود تا بر اورده بودند،(زمین داور) باغی ساخته بود آن را(باغ رام) نام نهاده والحق در میان دنیا مثل نزهت وطراوت آن باغ هیچ پادشاهی دارا نبود. وطول او بقدر دومیدان وار زیاتی بودبحله..." (دطبقات ناصری لومړی ټوک ۸۰ مخ).(۳۰)
په جغرافیایي تاریخي خلافت شرقي (۳۷۰ مخ) کي کاږي، "په زمینداور کي د(تل) دښار په شاوخوا کي یو غر دی چي (جبل الزور) نومیږي ځکه چی په دی غره کي یو بت د(زور) یا(زون) په نامه موجود ۇ په غنیمت سره دعربو لاس ته ولویدی".
بل ځای یاقوت حموي وایی:- "دحضرت عثمان (رض) دخلافت په وخت کي عبدالرحمن بن سمره دسیستان تر نیولو وروسته دزمینداور په لور ولاړ او هلته د(زون پر غره) لاس بری سو او په هغه غره کي یی دخالص طلا څخه جوړ بت چی دیاقوتو سترګي یی وی په لاس ورغی" .
په (جغرافیه حافظ ابرو ۸۳۰ ه) په شاوخوا کی دزمینداور نوم په جبل الزور یاد زور دغره په بڼه راغلی دی او لیکی:- "... قبر سلطان ابراهیم قتال درجبل الزور که مردم بومی(کوه زور) ګویند بین غور واسفزار موجود است". (۳۱)


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دملک شاه حسین صفاری(هلمندي) بن ملک غیاث الدین محمد بن شاه محمود سیستانی په خپل کتاب (احیاء الملوک)(۳۲) کی شاوخوا  څلور سوه کاله پخوا دزمینداور یادونه تر لس واره ډیره کړی ده او داځای یی په (زمین داور) لیکلی چی یو ځای داسی وایی "اراده خلاف شاه بیک خان در خاطر داشت وبه امرای نامدار خراسان راه شنایی مفتوح ساخته بود و شاه بیک خان او را درسرحد هیر مند(هلمند) آب و(زمین داور) جای داده بود که در برابر محمد زمان سلطان حاکم قلعه بُست که حقیقت حال او و سپردن قلعه بُست به او قلمی شده بایستد".

په یو بل ارزښت ناک اثر(تاریخ سیستان ، ۴۴۵ ه ق) شاوخوا چي لیکوال یی نامعلوم دی اودهلمند، سیستان او زمینداور په اړوند ډیر ګټور اسناد وړاندی کوي، په دی کتاب کي هم دزنداورنوم په (زمین داور) لیکلی او ترشل واره یی ډیر ددی ځای یادونه کړی ده. او په څنګ کي یی ورسره د(داور کلا) یادونه هم کړیده او دزمین داور په باب دیعقوب لیث صفاري جګړه د صالح بن الحجر سره داسی یادوي:- "پس از انکه آن ناحیت را ارام داد به والشتان و زمینداور و زمین بُست عمال بیتانید، پس روزګاری بسیستان ببود..."(۳۳) . بل ځای دداور دکلا په اړه کاږي :- "... وګر فتن (قلعه داوري)، ونشاندن ملک رکن الدین را بآن قلعه با مارت درسال ششصد ونودوسه".(۳۴)

په پورته یادو سوو کتابونو کي چي دزنداور نوم اخیستل سوی تر دامهاله زموږ لاس  کي وه، که چیری ماخذونه او نور منابع تر لاسه او ولټول سي په ځانګړی توګه هغه اثار چي تر اسلامي دوری مخکي لیکل سوي دي لکه، بکهت، پران دهندوانو مذهبی کتاب چی په هغه کی تر میلاد شاوخوا څوارلس سوه کاله مخکی د(بُست) نوم اخیستل سوی دی...

خواجه ابوالفضل محمد بن حسین بیهقي دغزنویانو په دربار کي منشي ؤ زیږیدنه  شاوخوا( ۳۸۰ هـ او مړینه  ۴۷۰ هـ) تقریباً زرکاله دمخه دزنداور نوم په (زمین داور) څو واره په(۱۳۲-۱۳۵-۱۳۶-۱۴۴) کی راوړی دی لکه یو ځای چي کاږی:- "بغزوغور رفت بر راه(زمین داور) از بُست و دوفرزند خویش را، امیران مسعود ومحمد، وبرادرش یوسف رحمهم الله اجمعین را فرمود تا (بزمین داور) مقام کردند وبنه های ګران تر نیز انجاماند". (تاریخ بیهقی-۳۲ مخ).

په تاریخ کي د زنداور لاری او منزلونه:

ابو القاسم بن محمدا بن حوقل په خپل اثر صورت الارض (۳۶۶ ه ق) کي لیکي:- "دبُست څخه تر سروان(اوسنی سروان کلا) پوري دداور دښار پر لار دوه منزله دي، وروسته دسروان په یوه منزل کي باید دهلمند تر رود تیر سي او (درتل) ته ورسیږي، له درتل څخه تر درغش دهلمند پر غاړه څه باندي یو منزل دی او دواړه په یوه اړخ کي دي او ددرتل څخه تربغنین پوري یوه ورځ او دبغنین په جنوب کي دبشلنګ قبایل دي".

دداور- زنداور نوم؛ په لرغوني پښتو ادب کي:

دپښتو په پخوانیو اشعارو کي چي دزمینداور نوم اخیستل سوی، هغه اشعار پخپله په همدی زمینداور کي تخلیق سوي دي. محمد هوتک بن داود په خپل کتاب (پټه خزانه) کي دامیر کروړ په باب وایي، او په دی یادونه کي د امیر کروړ ژمنی پلازمینه زمینداور ښي او وایي:- "امیر کروړ دامیر فولاد سوري زوی ؤ، چي په کال(۱۳۹ ه) کي دغور په مندیش کي امیر سو او جهان پهلوان یی باله"(احتمال لري چي امیرکروړ دهمدی زمینداور اویا سروان-کلا وي څکه په سروان کلا کي اوس هم د کروړیانو کلی سته).(۳۵)

بل ځای هم دتاریخ سوري په حواله داسي کاږي, چي "امیر کروړ په دوبي کي په(زمین داور) کي ؤ او هلته یی مانۍ درلوده چي کټ مټ دمندیش په شان وه. بل ځای وایي چي دا امیران له پیړیو په غور او بالشتان او بُست کي وه". (۳۶)

په بل ځای کي کاږي، چي": امیر کروړ، عادل او ضابط او دښی وینا خاوند ؤ، ده به هر کله شعرونه ویل، په کال (۱۵۴ه) کي دپوشنج په جنګو کي مړ سو، او تر ده وروسته یی زوی امیر ناصر ایوادونه(هیوادونه) ظبط کړل او دغور، او سور(ښایي دلته یی مطلب سروان کلا وي) او بُست او (زمین داور) په څمکو خاوند سو". (۳۶)

دلته یوازي دپټی خزانی په متن کي د(زمین داور) نوم راغلی خو دهلمند په تاریخي جغرافیه کي د(جرم=ګرم=ګرمسیر) یادونه دامیر کروړ په ویاړنه کي هم راغلی چي بیلګه یی داده:

زما دتوري تر شپول لاندي دی هرات وجرم
غرج وبامیان وتخار بولي نوم زما په اودوم
زه پیژند یم په روم          له ما اتل نسته(۳۸)

دزنداور نوم دښکارندوی بستي په قصیده کي (۵۸۰ ه) شاوخوا:
استاد
ښکارندوی دپښتو له ډیرو زړو قصیدو ویونکو څخه دی چي حال یی محمد هوتک بن داود په پټه خزانه کي ذکر کړی دی: دپټي خزانی مولف له لرغوني پښتانه څخه را اخلي چي ددی کتاب خاوند هم هغه له تاریخ سوري څخه را اخیستي


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دي او وايي ښکارندوی غوري دخپل وخت عالم او شاعر پښتون و او دسلطان شهاب الدين محمد سام شنسباني په حضور کي ډير عزت او اعتبار درلود(۳۹). ښکارندوی په خپله ښکلی او خوږه قصيده کي د(داور) يادونه کړی

چي وايي:
نه به راولي جګړن دسيند په لوري
نه به برى ځوک دهند خپاره شهرونه
نه به ځوک زلمی دغور سره راغونډ کا
د(داور) توري به چيری کا ځلونه(۴۰)

دلته په دی اخره نيم بيتي کي د(داور) کلمه راغلی چی دزنداور او زميداور په مانا ده، چی په شپږمه هجری پيړۍ کی هم دا سيمه د(داور) په بڼه دود ۋ.
دتايمني په چاربيته کي دزنداور ستاينه (۵۸۰ ه ق) شاوخوا:
دپښتو په لرغونو او پخوانيو شاعرانو کي يو هم تايمني دی چي دسلطان غياث الدين غوري په وختو کي په زنداور (زميداور) او غور کي اوسيدی. تايمني په خپل شعر کي دزنداورد تاريخي مدنيت، تاريخي ودانی او باغ(ارم= حرم) اوسنی باغران، ستاينه کوي، ددی باغ ستاينه دغوري دوری تاريخ ليکونکی منهاج سراج جوزجانی هم په(۶۵۰ ه.ق) شاوخوا کي کړی ده(۴۱). راسی چی دپښتون شاعر تايمنی دبغني اوسيدونکي په چاربيته کي دزنداور او باغ ارم(اوسنی باغران) نومونه وګورو. لکه:
ماد(داور) په ځمکه وليد (ارم)
دادجنت په ځير و بڼ ښه خرم
دفيروزکوه په دود ودان دی نا
ښکلی هر ګل څه ښه خندان دی نا(۴۲)

داچاربيته اروابناد علامه حبيبی په (۱۳۱۰ هـ ش) کي په همدی هلمند کي د يوه سپين ږيري له خولی اوريدلی وه، ځکه نو داچاربيته او داکبر زميداوري غزل او مثنوی په پټه خزانه کي نسته او پوهاند حبيبی جلا پيداکړي دي.
په پورته نيم بيتي کي د(داور) او(ارم) نوم راغلی چي همدا زنداور او باغ رام ښيي له تاريخي ځرګندونو څخه معلوميږي چي دا باغ په زنداور کي ۋ او دغوري باچاهانو ژمنی او پسرلنی مرکز ۋ، چی يادونه يی په (زړو تاريخي جغرافيايي کتابونو کي دزنداور= زمين داور) تر سر ليک لاندي وسوه.
داکبر زميداوري په اشعارو کي د(زميداور) دنامه ځرک (۷۸۰ ه ق) شاوخوا:
داکبر زميداوري داشعارو څخه دونه پوهيږو چي دی دتيموريانو په دوره کي اوسيدی او ددوی ظلمونه يی ليدلی دی (داور= زميداور= زنداور) زموږ دهيواد لرغونی سيمه ده چي تر اسلام مخکي او وروسته يی د مغولو تر تاړاکه پوري دپوره ثقافت او مدنيت مرکز ۋ مشهور ښارونه يی لرل چی اکبر پخپله په همدی ځای کي زيږيدلی دی. لکه دده په يوه بيت کی چی دمغلو دتمر(تيمور) دظلمه فرياد کوي او له دی ماتمه خپل پلرنی ټاټوبی زميداور هم هيروي پاته دي نه وي چی ګوډ تيمور له (۷۷۱ څخه تر۸۰۷ ه) پوری سلطنت کړی دی.
داکبر بيت:

دمغلو تمر هسی په اور وسوم
چی به هيرپه دی ماتم زميداور کړم(۴۳)

دپورته بيت په دوهمه نيم بيتی کی دزميداور دنامه ځرک په ښه توګه ځرګنديږی.
دزنداور جغرافيايی موقيعت:
زميداور يا زنداور يوه سيمه ده چی دهلمند ولايت په حوزه کي پرته ده حدود يی په دی ډول دی: ختيځ پلوته يی دهراود(ديراوت)، لوديځ لورته موسی کلا، شمال خواته بغنی بغران او سهيل(جنوب) ته دهلمند سيند پوری نښتی دی، شمال پلو ته يی غرونه او واوره ډيره پر اوريږي، پخپله زميداور واوره لږ اوباران زيات اوري. ددی سيمي مځکي ټولي په هلمند سيند خړوبيږی(۴۴) چی اوس مهال ټول کاريزونه دي.

ده زور= ده زو= ګيزو:
داتلس قريه های افغانستان په دريم ټوک (۱۲۴۸ مخ) دهلمند ولايت په برخه کي، په موسی کلا ولسوالی کی(ده زور= Dehzoor) لوړ او کښته (ده زور) په مسلسل نمبر کی(۲۶) کلی ليکل سوی دي دلته هم دانوم په غلته بڼه کښته او لوړ(ده زور= ده ظهر) ليکل سوی دی خو ددی ځای اصلی اواره بڼه چی په زړو تاريخی او جغرافيايی نسخو کی ثبت ده


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

هغه(ده زور) ده چي اوس هم ځيني زړی کلاوي او تاريخي پاته شوني سته چي داځای دهغه ځای اوسيدونکي کافر کلا بولي.(۴۵)
کيدای سي دتاريخپوهانو دزور- زوړ نوم په همدی ځای کی تعين سی ځکه دزور لرغونی نوم تر اوسه پر خپل ځای پاته دی(۴۶) لکه په دی اولسي بيت کی:

(د) ديزو(ده زور) پر بنده کي
ساتو کرلي ختکي

اطلس قريه های افغانستان( ده زور= ده ظهريی غلطه املا ده) دموسی کلا لوديز پلو ته څلور پنځه کيلومتره ليري ښيي.

پاتی بيا


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ